# عبدالله جان اسیر ژوند او ادبي خدمات

بشریٰ خاتون

**Abstract**

The author of this paper discussed in detail, all the relevant dimensions of Abdullah Jan Aseer's works. She analyzed the major writings of Abdullah Jan Asseer both in prose and verse and put him forward as a prolific writer of the then literary scenario. As a whole this paper can guide and help the up coming writers and researchers who will search out the life and works of this seasoned/ rechoned poet and prose writer in future.

د شلمې صدۍ پښتنوادبیاتو شاعرانو پښتو جدید ادب ته هغه بخښنني کړي دي ـ چې د سنګ میل حیثیت لري ـ پښتو ادب کښې د جدت لخښې خو د مخکښې نه هم موجود دې وې خو په اصلي معنو کښې په ادب کښې جدت ته لارې د شلمې صدۍ په وړومبو عشرو کښې پرانستې شوي دي ـ او ددغه جدت دستار د یو څو نوموړو لیکوالو په سر دے چې په وړومبي سر کښې ئې د راحت زاخیلي، سمندرخان سمندر، کاکاجي صنوبرحسین، امیرحمزه خان شنواري، او څو نورو لیکونکو نومونه مخې ته راځي ـ وروستو د جدت په دغه کاروان کښې ځنې داسې لاروي هم شامل شو چې د پښتو ادب نه علاوه ئې د مغربي ادب ، روس او جرمن د ادب او انقلاب تحریکونو مطالعه ئې هم کړي وه او ورسره ورسره ئې د اُردو، فارسي او په عربي ادب ژورنظر وو ـ دغه شان ددې لیکونو د مطالعې، مشاهدې د صلاحیت او قابلیت په وسیله پښتو ژبه د نوؤ موضوعاتو، رجحاناتواو اصنافو سره اشنا شوه ـ او ورسره د بهرنۍ دنیا د ادب اثرات او د علم و ادب ذخیره هم پښتو ته داخلیده چې په مجموعي توګه ئې پښتو ادب کښې د جدت نخښې څرګندې کړې او نوي ادب ته ئې وده ورکړه ـ د جدت په دغه قافله کښې یو غړے عبدالله جان اسیر هم ؤ ـ چې تعلق ئې د صوابۍ سیمي زېده نومې کلي سره ؤ ـ عبدالله جان ئې نامه او اسیر ئې تخلص ؤ ـ ددهٔ د قام قبیلې او زیږدنې په حقله د پښتنانهٔ مؤلف همیش خلیل لیکي :

د مردان ضلعې په صوابی تحصیل کښې زیده یو مشهور کلے دے ـ چې د سید احمد شاه بریلوي او اسمعیل شهید د جهادونو په زمانه کښې ئې هم کافي شهرت لرلو۔ او د هغې وجه دا وه چې ددغه کلي ارسلاخان او د پنجتارفتح خان اول کښې د مجاهدهنو ډیره مرسته کړي وه ـ

هم دغه زمانه کښې ددغه کلي یو بل سین روے چې ادم خان نومیدهٔ او د یوسفزو د اباخیلو د شانګې د مکاخیلو د ټبر ؤ۔ او د الله ډنډ د چشتي بابا د مرید میا عمر نمسے وو۔ هم دغه ادم خان به تل د ارسلاخان مخالفت کولو۔ ددغه مخالفت نتیجه دا شوه چې اخر ادم خان زیده پریښوه او د خدو خیلو په سلم خان نومې کلي کښې میشته شو۔ د ادام خان دوه ځامن وو۔ د یو نوم ستاره خان او دبل نوم میرحمزه خان وو۔ کوم وخت چې د پیرنګیانو په راتک ارسلاخان د زیدے نه لاړ او د سوات په ررچارباغ،، کلي کښې ئې استوګنه شروع کړه نو ستار خان او میر حمزه خان چې مشر وو هغه په زیده کښې دیره شو او کشر ورور ستار خان ئې پنچ پیر کښې په خپل جائیداد قبضه اوکړه ـ څهٔ موده پس ستاره خان میرات مړ شو۔ او دمیر حمزه خان یو ځوئے پاتې شو چې شیر زمان نومیدهٔ څهٔ موده پس شیر زمان هم ددمړے په مرمن حق اورسیدو او دوه ځامن مقرب خان او عالم خان ترے پاتې شول ـ اسیر صاحب د دغه مقرب خان کره د کال ١٩١٠ء د جولائي په څوارلسم تاریخ پیدا شو۔[1]

شجره به درته خپله کړم بیان
زما پلار ردے د زیدے مقرب خان
عالم خان نامه د پلار مې وو یو رور
یادسړے مې وو نیکهٔ شیرزمان خان
د نیکهٔ پلار مې هم ښهٔ د مشهور سړے وو
چې یادیږي یې نامه میرحمزه خان
ستاره خان ئې متر رور وو چې میرات وو
دا ځان د خان بابا وو ادم خان
پې پنج کښې به مقام د خان بابا وو
په زیده کښې هم اباد ئې وو مکان [2]

د عبدالله جان اسیر خانداني پس منظر څهٔ خو هغه پخپله څرګند کړے دے او څهٔ د پښتانهٔ لیکوال مؤلف ښاغلي همیش خلیل لیکلے دے ـ دغه شان د اسیرمرحوم خپل حالات او لنډه ادبي پیژندګلو ښاغلي افضل رضا صېب په خپل کتاب رر کاروان د ازادی،، کښې په دے ټکو لیکلي ده ـ

رر په کال ١٩١٠ء کښې په زیده کلي کښې د مقرب خان کره پیدا ؤ۔ سبق ئې خپل کلي

کښې وئيلے وو۔ وروستو بيا د پېښور په اسلاميه کالجيټ سکول کښې داخل شو ـ ۱۹۳۰ء کښې په خدائي خدمتګار تحريک کښې شامل شو۔ ۱۹۳۱ء کښې ئې د هند دوره اوکړه ـ هم دغه دوران کښې پوليس کښې ملازم شو۔ خو زړئي دا نوکري پرېښوه کله چې د پاکستان د جوړولو د پاره (صوبه سرحد) کښې پښتونخوا د مسلم ليګ تحريک زور اونيوؤ ـ نو دے پکښې شامل شو ـ ۱۹۳۳ء کښې جرے ـ وي او ۱۹۳۶ء کښې ئې ايس ـ وي امتحانونه پاس کړل ـ څۀ موده مدرس وو۔ وروستو بيا د صوبه سرحد اطلاعاتو محکمه کښې پي ار او لګيدو۔ د جمهور اسلام مدير هم پاتې شوے دے ـ،،[3]

د عبدالله جان اسير د ذاتي او ادبي ژوند په حقله د معلوماتو دغه خاکه په زيات وضاحت سره د هغۀ د لور فريده اسير د مرکې نه مخې ته راځي چې زيات معلومات ئې د اسير صېب په ذاتي روز نامچه اډانه دي ـ

فريده اسير د هغۀ د ابتدائي ذده کړې په حقله وائي:

عبدالله جان اسير د جماعت امام زيارت بابا کره د سيپارې سبق شروع کړو او د هغۀ انزور ګلاب استاذ ئې د احسان الله ټبرورته وړومبی سيپاره اوښودله او سيدجان ابی په مونځ اودروؤ ـ د مدرسې د سبق د پاره د زيدي پرائمري سکول ته واستولے شو۔ چې د هلته نه ئې ۱۹۲۱ء کښې څلورم جماعت پاس کړو۔ په کلي کښې د څلورم نه پس سبق نۀ وو په دے وجه په نوښهار اسلاميه سکول کښې په پينځم جماعت پاس کولونه پس په ۱۹۲۳ء کښې اسلاميه کالجيټ سکول پېښور کښې په اووم جماعت کښې داخل کړے شو۔ او بټلرهاسټل کښې واچولے شو۔ په لسم جماعت کښې په انګريزی کښې فيل شو او دا سلسله په دغه ځائے ختمه شوه ـ[4]

د اسير صېب د ملازمتونو په حقله فريده اسير داسې معلومات راکوي ـ

په مارچ ۱۹۳۲ء کښې د جونئير ورنيکولر(J.V) ټريننګ له لاړو او په جون ۱۹۳۳ء کښې ئې وړومبے په خيراباد پرائمري سکول کښې تقرري اوشوه او هم ددے سکول ۱۹۳۵ء کښې د S.V ټرنينګ له لاړو۔ د S.V په ټريننګ کښې په ښو نمبرو پاس شو۔ په ۸۶۲ نمبرو ئې دريم پوزيشن واخستو ـ دا ځل ئې تقرري د تورو په مډل سکول کښې اوشوه ـ دا نوکري ئې د څۀ وجوهاتو په وجه پرېښوده ـ ددې نه پس ئې په ۱۹۳۷ء کښې اسلاميه هائي سکول پېښور کښې چارج واخستو۔ دلته چې ئې شل مياشتې تېرې کړې نو په مانسهره کښې ورته د سرکاري نوکرئ پيشکش اوشو۔ په ۶ فروري ۱۹۳۹ء کښې ئې په مانسهره کښې چارج واخستو۔

په مئ ۱۹۴۱ء کښې ئې چارسدي سکول ته بدلي اوشوه ـ دلته ئې دوه کاله تير کړل او په مارچ ۱۹۴۳ء کښې ئې کوهاټ ته بدلي اوشوه ـ دغه وخت کښې قاضي عطاء الله خان وزير تعليم وو۔ دۀ استاذان را اوغوښتل او سپکې سپورې ئې ورته اووې ـ ددے په جواب کښې

عبدالله جان اسیر تقریر اوکړو۔ او وزیر ته ئې اوویې چې زۀ ستاسو شکر په ادا کوم چې مونږ له مو د ملاقات شرف راکړو۔ خو مایه وړومبې ځل دا اولیدل چې څوک جرګه دا اوغواړي ـ او سپورې سپکې ورته اووائي په دے وینا ئې ټول استاذان د نوکرئ نه اوغوښته کړل ـ روستو ټولو استاذانو د وزیر نه معافي اوغوښته نو بحال شو ولې عبدالله جان اسیر او نۀ غوښته په دې وجه دے بحال نۀ کړے شو۔

فروري ۱۹۴۴ء کښې محکمه اطلاعاتو صوبه سرحد کښې د پراپیګنډه اسسټنټ اسامي راووته ـ عبدالله اسیر ورته اپلائي اوکړه او دے نوکرئ کښې واخستے شو ـ ددے نه پس نیو دهلي ریډیو کښې نوکر شو۔ د ازادئ نه پس لاهور ته راغے او بیا پېښور سټیشن کښې د خبرونو د پاره واخستے شو۔ په ۱۹۵۷-۵۸ کښې په ویلاج ایډ محکمه کښې میران شاه کښې پبلک ریلیشن افسر وو۔ ددے نه پس کراچۍ براډ کاسټنګ ته لاړو او ۱۹۶۱ء پورې ئې دغه ملازمت اوکړو۔ د ۱۹۶۱ء نه ۱۹۶۲ء پورې په کوئټه کښې د پښتو میاشتنۍ رر اولس،، ایډیټر پاتې شو په ۱۹۶۳ء کښې د پښتو رسالې ررجمهوراسلام،، ایډیټر مقرر شو۔ د پینځه پنځوسو کالو په عمر کښې ریټائر شو او په ۱۹۶۵ء کښې کلي ته واپس راغلو او زمینداره ئې شروع کړه ـ په تصنیف و تالیف کښې به ئې وخت تیرولو۔ اخر په ۱۳ نومبر ۱۹۷۸ء کښې د زړۀ په دوره وفات شو۔ [5]

اسیر صېب ګڼ اړخیزي شخصیت لري ـ ډرامه، ناول او شاعري ټولو اصنافو کښې ئې طبع ازمائي کړیده چې رردرس عبرت ،، پکښې زیات شهرت موندے دے او په ادبي دنیا کښې هم اسیر صېب د یو ډرامه نګار په حېث پېژندے شي ـ ولې ډېرو کمو خلقو ته به پته وي ـ چې اسیر صېب نۀ صرف یو ښۀ ډرامه نګار بلکې یو ښۀ شاعر، ښۀ مترجم او یو ښۀ ناول نګار هم وو۔

فریده اسیر د هغۀ د ادبي سفر په حقله د هغۀ د ذاتي روزنامچو په حواله وائي:

زما پلار سره ررحضول کونین،، نوم یو ضخیم کتاب وو۔ د قران د ایاتونو فضائل پکښې وو ـ دا یوه قلمي نسخه وه ـ د هغې نه ما واړۀ واړۀ کتابونه جوړ کړل او کتب خانه اصفیه حیدر اباد دکن کښې مې په پنځوس روپۍ خرڅ کړل ـ د هغه وخت نه ما اراده اوکړه چې زه به هم کتابونه لیکم ـ[6]

دغه وخت ئې شعري مجموعه رر د سپرلي ګل ،، مکمل شوےوو ـ خو د چاپ کولو پیسې ورسره نۀ وې ـ بیا ئې ۱۹۳۶ء کښې چاپ کړو۔ دا کتاب د هغه وخت د لسم جماعت په کورس کښې شامل وو۔ په ۱۹۳۵ء کښې د S.V د ټرنینګ په دوران کښې ئې دملګرو د پاره یو کتاب د دلچسپ حساب په نوم اولیکلو ـ فضل ودود ئې کتابت اوکړو۔ دغه مسوده د ځرمنو په جلد کښې د اسلامیه کالج په لائیبریرئ کښې محفوظه ده ـ هم په دې کال ئې

رردرس عبرت،، ډرامه هم اوليکله ـ

د مانسهرې د قيام په دروان کښې ئې څلور واړۀ واړۀ کتابونه جغرافيه هزاره، جغرافيه مردان، جغرافيه پشاوراو مطالعه قدرت اوليکل ـ جغرافيه هزاره او مطالعه قدرت مانسهره کښې نذير نومې کتب فروش چاپ کړل ـ او باقي دوه کتابونه دارالاشاعت لاهور چاپ کړل ـ دا کتابونه اصل کښې د لسم جماعت د نصاب د پاره ليکلي شوي وو۔ ولې محکمه تعليم ټيکسټ بُک بورډ نامنظور کړل ـ ځکه چې عمله ټول پنجابيان وو۔ ولې د نامنظورۍ په حالت کښې به هم دا باقاعده خرڅيدل ـ

دغه شان د زړۀ ملغري ئې هم په مانسهره کښې اوليکلو خو پنځلس کاله پس چاپ شو۔

د خپل يو بل کتاب ررمحمد عربي،، په حقله عبدالله جان اسير په خپل خودنوشت کښې معلومات ورکړي دي ـ چې فريده اسير ئې داسې بيانوي ـ

په مانسهره کښې خور شيدانور نومې يو پنجابې سړے ماله راغے ـ په انګرېزۍ کښې ئې د رسول کريم صـ د ژوند حال د محمدعربي په نوم اوليکلو۔ او ماته ئې د ترجمې اووې ـ مائې په پښتو کښې ترجمه اوکړه ـ او هم په دغه نوم مې په پښتو کښې چاپ کړو۔ [7]

اسير علي يهګ ئې هم يو نثري کتاب دے ـ چې همېش خليل په خپل کتاب پښتانۀ ليکوال کښې ورته سوانح ليکلي دي او د عبدالله جان اسير لور فريده اسير ماته اووې چې دا يو ناول وو۔

عبدالله جان اسير ريډيو له هم ګڼې ډرامې ليکلي دي لکه خو نړے کنډاؤ، دنيا، د زوئے قاتل، د قسمت ليک ، او مرجونډ۔ [8]

د ژوند په اخري ورځو کښې ئې اردو ژبه کښې ئې يو ناول ررزمين سے پنچون تک ،، ليکلے وو۔ چې زما په خيال يو شاهکار ناول دے ـ

## ۱ عبدالله جان اسير د ډرامه نګار په حيث

عبدالله جان اسير ګڼې ډرامې ليکلي دي ـ چې درس عبرت پکښې د ټولونه ډېر شهرت موندے دے ـ دا ډرامه د پښتو ورومبۍ چاپ ډرامې رردوينوجام،، نه سمدستي پس ليکلے شوې ده ـ ددې په حقله عبدالله جان اسير په خپله ډائيرۍ کښې ليکي:

> د S.V مضامين ما د پاره ګران نۀ وو۔ حساب کښې زۀ ډېر ښۀ ووم ـ د خپلو ملګرو د فائدې د پاره ما يو وړوکے شان د حساب کتاب د دلچسپ حساب په نوم اوليکلو او يو ورځ مې دا کتاب د J.V يو طالبعلم د محمد اعظم په ملګرتيا کښې مې فضل ودود يو کاتب ځخه اوړو۔ د برتهکال اوسيدونکے وو او دے د محمد

اعظم ډیر دوست ؤ ـ دغه زما نه کښې پېښور صدر کښې په امیرسټیل الیکټرک پریس کښې فضل ودود نوکر وو ـ چې مونږ فضل ودود څخه لاړو نو هغه کتابت کښې اړم وو ـ او ماپه وړومبني ځل اولیدل چې کتابت څنګه کیږي ـ هغه ته ما خپل مطلب بیان کړو ـ چې زهٔ دا کتاب چاپ کول غواړم ددې کتابت به څرنګه کیږي ـ او دا به څرنګه چاپ شي ـ هغه راته جواب کښې اووئیل خان صاحب دا لاس کښې ډېر زبردست کتاب دے ـ کتاب داسې لیکل پکار دي لاخو زهٔ ددې نه اوزګار نهٔ ئیم ـ ما د کتاب مسوده لاس کښې اوچته کړه ـ او د ځائے ځائے نه مې اولوسته ـ دا د وینو جام ډرامې مسوده وه ـ د کتاب لړ شان د کتونه پس ما فضل ودود ته اووئیل چې ماته خودې کتاب کښې څهٔ خاص څیز نهٔ ښکاري ـ کهٔ زهٔ ورته کښینم نو پینځلسو ورځو کښې ددې نه ښهٔ اوغټ کتاب لیکلے شم ـ فضل ودود په خندا شو ـ ما ورته وئیل ولې خاندې هغه وئیل ستا خبرې پورې ـ دا دومره اسان کار نهٔ دے ـ ماورته وئیل ښهٔ نو کهٔ چرې ما اولیکلو نو بیا ـ فضل ودود اووئیل نور به زهٔ څهٔ اووئیم کتابت به درته زهٔ مفت اوکړم ـ دلچسپ حساب په ځائے پاتې شو ـ ما د ښار نه ځان سره یو بنډل کاغذونه وخستل ـ او بله ورځ د ټرنینګ سکول د پنبموانو د لاندې کیناستم ـ د ډرامې یو پلاټ مې تیار کړو ـ او بله ورځ مې د ډرامې لیکل شروع کړل ـ چرته چې به د نظم ځائے راغے نو هغه دم به مې نظم تیار کړلو ـ مطلب دا چې په هفته کښې مې ډرامه اولیکله ـ بیا مې محمد اعظم ته اووې چې ستا خط ښهٔ دے دا لږ په سوتره قلم اولیکه ـ هغهٔ یوهفته په صفا لیکلو واخسته ـ او یو پینځلس ورځې پس مې دغه مسوده فضل ودود له یو ړه ـ هغهٔ راته اووئیل مسوده پریږده ـ زهٔ به ئې دشپې کور اوګورم ـ یو جمعه پس فضل ودود ماڅخه راغے اوماته ئې اووئیل او مبارک د شه واقعي چې ښهٔ ډرامه دې لیکلې ده ـ ما شرط بائیلو اوس چې هر وخت وائي زهٔ به درله کتابت مفت اوکړم ـ ددې د ډرامې د قیصې نه زمونږ د پرنیټنګ سکول هاسټل سپرټینډنټ غلام سرورخان خبر شو ـ هغه راته وئیل چې د اسلامیه کالجیټ سکول هیډماسټر مولانه عبدالقادر له به لاړ شو هغهٔ په درله تصحیح اوکړي ـ مولانا عبدالقادر د هغه په وینا تصیح اوکړه ـ نو محمد اعظم دوباره صفا او لیکله ـ ما ورله د څرمنې کور جوړ کړو ـ او اسلامیه کالج کتب خانه مشرقیه کښې محفوظه ده ـ دا په ګیلاني الیکټرک پریس لاهور کښې د بابو نفلام الدین د نګرانۍ د لاندې چاپ شوه ـ او برتهکال کښې د ارباب شیرعلی خان دیره کښې د ټریننګ سکول هلکانو په سټیج باندې اوښودله ـ[9]

ددې ډرامې په حقله ډاکټر محمد اعظم اعظم ليکي :ـ

> د وينوجام غونډې په دغه ډرامه پسې سمدستي ليکلې شوې ډرامه درس عبرت هم په پښتني چاپيرچل باندې جوړه شوې ده ـ په وړو وړو خبرو باندې غټې او اوږدې مقدمې، دروغو وړو ګواهي ، نيبته ورګواهان، کوچني کوچني غرمنونه او لالچونه او د هغې په نتيجه کښې غټې تباهۍ د درس عبرت تنه بوده هم رغوي ـ خو د اولس د نام نهاده مشرانو او باردارانو د لاسه په ناپوهـ وګړي او بې تعليمه عوامو باندې لوبې کول او د هغوئ د ناپوهۍ نه غلطې فائدې پورته کول ـ د پښتو او غيرت په نامه هر يو بې پښتو چار کول او د اخلاقو په جامه کښې هر بد اخلاقۍ خورول دا هغه موضوعات او اړخونه دي چې د درس عبرت او د وينوجام تر مينځه کرښۀ راکاږي ـ [10]

سره ددې چې د اسير صاحب دا ډرامه د پښتو ډرامې د ابتدائي دور سره تعلق لري چې پښتو ډرامه په فني او فکري حوالو د ارتقاء وړومبۍ مرحلو نه تيريده خو بيا هم درس عبرت په فکري او موضوعاتي لحاظ خو ډيره اثر ناکه ده ـ خو ولې ددغه اثر قائمولو کښې د اسير صاحب فني ګرفت هم اهم کردار لوبولې دے ـ ځکه چې اسير صاحب د کومو کردارونو په ذريعۀ خپل پيغام پښتون اولس ته وړاندې کړے دے ـ نو د کردار نګارۍ حق ئې هم په ښۀ توګے ادا کړے دے ـ په ډرامه کښې د دوؤ فرښتو کردار د يوناني ډرامو سره لګي ـ او بيا د واقعاتو ترتيب او توازن ئې د ډرامې پلاټ کښې هم حپستي پيدا کړې ده ـ ځکه ورته مونږ دخپل دور يوه کاميابه او معياري ډرامه وئيلې شو۔

## ۲ عبدالله جان اسير په حيث د يو شاعر

عبدالله جان اسير د شاعرۍ درې مجموعې چاپ دي ـ د سپرلي ګل ، د زړۀ قطرې، او پلوشې ـ

ددې نه علاوه ئې څۀ ناچاپ شاعري هم شته ـ زۀ غواړم چې په دې دريو واړو مجموعو بيله بيله تبصره اوکړم ـ او بيا د پلوشې په حواله د هغۀ د ترجمې په معيار او اهميت ځانله تبصره اوکړم ـ

## ۳ د سپرلي ګل

د سپرلي ګل عبدالله جان اسير په کال ۱۹۳۵ء کښې پوره کړے وو۔ او په ۱۹۳۶ء کښې ئې چاپ کړے دے ـ دا يو وړوکے شان له کتاب دے چې په قطعاتو او نظمونو مشتمل

دے چې اداره اشاعت سرحد پشاور بازار قصه خوانی چاپ کړے دے ـ عبدالله جان اسير ددے انتساب د خپلې مور په نوم کړے دے ـ په دے کتاب محمد لطلف الله ديوبندي جصانګيروي تبصره کړے ده ـ چې ددې کتاب په شروع کښې چاپ ده ـ هغه په خپله دغه تبصره کښې د اسير د شاعرئ په حقله ليکي : ـ

د زمانې د بلا خيز بېدنئي سيلاب نه برعکس اسيرصېب د عقائدو د صراط مستقيم نه او فکر د عقبی نه هم غافله نۀ دے او په دے باره کښې ماته بعض ځايونو کښې د هغه اشعارو کښې د فارسئ ابن همين شاعر رنګ ښکاري ـ،،[11]

اسير صاحب خپل کلام کښې په څنو موقعو د اقبال خيالاتو ته د پښتو جامه اچوي ـ ليکن داسې قابليت سره چې د چاګمان نۀ کيږي ـ چې دا د بل چا د کلام اثر دے ـ مثلاً اقبال وائي :ـ

يوں تو سيد بهی ہو مرزا بهی ہو افغان بهی ہو
يہ سبهی کچھ ہو بتاؤ کہ مسلمان بهی ہو
اسير صاحب دا خيال داسې بيانوي : ـ
زۀ منم چې ته بهادر او دولتمند ئې
هم منم چې تۀ په ذات ډير لوئے افغان ئې
خو تپوس له تانه دا کوم پښتو نه
ماته اووا يه چې تۀ هم مسلمان ئې[12]

د اسير صاحب په کلام کښې بعض ځائے د تصوف د رنګ د پښتنود کلاسکي شاعرانو په تبع کښې هم پيدا شوے دے ـ مثلاً

ځما هر رګ شولو تار تن مې رباب شو
باقي ژوند مې په غمونو کښې حساب شو
سکندر حضر ته ويلو په ظلمات کښې
سخت ژوندون له سخته مرګه نه عذاب شو[13]

بعض ځائے کښې د مرزا بيدل او غالب رنګ هم پکښې ښکاري : ـ

کۀ هر ځائے ئې يا کۀ ځائے د لامکان دے
په دا هرڅۀ مې يقين دے او ايمان دے
ماته اوښا په چې زۀ يمه کوم ځائے
ته کۀ هر ځائے ئې زما په کوم تاوان دے [14]

عبدالله جان اسیر قوم پرست انسان دے ـ هغه د خپل قوم ترقي په علم وفن کښې ګڼي او په داسې علم یقین نهٔ لري چې هنر پکښې نهٔ لري چې هنر پکښې نهٔ شي ښودلے لکه وائي:

علم وفن له ترقي ورکړه وطن کښې
کهٔ د خپلې سرحدی ترقي غواړې
چې کسیونه کمالونه پکښې نهٔ وي
هغه ټولې مدرسې کړه د فن شاړې[15]

دغه شان هغه د پښتون قوم د اتفاق ارزومند دے ـ او خپل قوم ته د محنت او اتفاق سبق ورکوي ـ

اوبه ئې نهٔ ګټې څووینې پر تويې نهٔ کړې
اغستل د ازادئ څهٔ اسان نهٔ دي
کامیابي دې یقیني ده کهٔ ته یو شې
اتفاق ته ګران کارونه څه ګران نهٔ دي [16]

دغه شان عبدالله جان اسیر صرف د ګفتار قائل نهٔ دے بلکې د کردار قائل دے ـ

کهٔ په ځان کښې څهٔ پوټے قدرې توان وینې
میداني شه راشه جنګ ته اے اسیره
بې له جنګ دې پوره نهٔ منمه وروره
کهٔ ترغوږه دشي بریت او یا دې ږیره[17]

صرف په تقدیر باندې صبر کولو او محنت کولوته هم عقل نهٔ وائي ـ لکه وائي ـ

په تدبیر به ګران کارونه د اسان شي
کوم چې تا حواله کړي په تقدیر دي
تقدیر شته دے خو تدبیر هم عنقانهٔ دے
د تقدیر مارغان بند شوي په تدبیر دي [18]

د اسیر صاحب په کلام د علامه اقبال نه علاوه د رحمان بابا د شاعرئ معنوي اثرات هم جوت ښکاري ـ او ددې وجه دا ده چې رحمان باباو اقبال دواړه خپل فکر او شاعري د اولس د ښیګړې اواصلاح ذریعه جوړول غواړي ـ او اسیر صاحب هم د خپلې شاعرئ نه هم دغسې مقصدي کاراخستل غواړي ـ سره ددې چې د رحمان بابا او اقبال په شاعرئ کښې د مقصد سره سره د فن خواږهٔ هم ښهٔ پریمانه دي ـ خو په مجموعي لحاظ د مقصدي شاعر نه د

شاعرانه باریکیو او فني نکاتو زیاتو غوښتنه پکار هم نۀ ده ـ موږ کۀ د اسیر صاحب شاعرۍ ته په دغه تناظر کښې ګورو نو وئیلے شو چې د هغه په کلام کښې د فن نه زیات دمقصد خیال ساتلے دے ـ او په محیح معنو کښې ئې خپله شاعري د قامي اصلاح ذریعه ګرځولې ده ـ دلته د دغه قسمه مقصدي شاعرۍ په ضمن کښې د رحمان بابا او علامه اقبال د کلام سره د اسیر صاحب شاعرۍ د فکري او معنوي یو والي څو نمونې وړاندې کوم ـ

رحمان بابا وائي:

کۀ مې ورور کۀ مې عزیز کۀ مې فرزند دے
واړه غواړي خپله خپله مدعا[19]

د عبدالله جان اسیر په دې قعلعه کښې د رحمان بابا رنګ لیدے شي ـ

په دنیا کښې د تګې دے نن با پار
چرته نشته دے د خدائے د پاره یار
د مطلب د پاره تاته به نزدې شي
که د رور کۀ د تربور وي کۀ دې پلار [20]

رحمان بابا وائي:

هوښیار مۀ ګڼه هوښیار ددې دنیا
بیوقوف دے وقوف دار ددې دنیا[21]

اسیر صاحب وائي:

څوک چې بل ته بیوقوف وائي بیوقوف دے
بیوقوف چې ځان ګڼي هغه هوښیار دے
دولتمند چې کړي لالچ هغه عزیب وي
چې په زړۀ باندې وي موړ غریب زردار دے[22]

رحمان بابا وائي:

څوک چې لاس له سوره اوکاږي زیان نشته
په ملنګ باندې قلنګ او تاوان نشته [23]

څوک دې راکاندې قسم په کردګار
کۀ درم لرم په کور کښې یا دینار
زۀ درم او دینارنۀ لرم په کور کښې
ولې نور خلق مې بولې دنیادار[24]

عبدالله جان اسیر وائي:

په پستئ کښې ئیم خوشحاله باور اوکړه
په دولت پسې مې بالکل ارمان نشته
زۀ له کل غمه خلاص کړے د نستئے ئیم
په ملنګ باندې قلنګ او تاوان نشته [25]

په دې قطعه کښې ئې د رحمان بابا او اقبال خیال څومره په اسانه ژبه کښې ځائے کړے دے ـ

شه د خاورو سره خاورې چې ژوندے شې
بهر خاورې نه دانې لره تل مرګ دے
څوک چې ځان ته وائي زۀ ئیم هغه سپک شي
کم چې ځان ګڼي له ټولو هغه زبرګ دے[26]

اقبال وائي:

مٹادے اپنی ہستی کو اگر کچھ مرتبہ چاہیے
کہ دانہ خاک میں مل کرگل گلزار ہوتا ہے[27]

رحمان بابا وائي:

ژوند ځان په زمکه ښخ کړه لکه تخم
کۀ لوئي غواړې د خاورو په مقام شه [28]

د عبدالله جان اسیر په شاعرئ کښې د خوشحال رنګ هم لیدے شي ـ دلته د خوشحال بابا د شاعرئ سره د موازنې په ځائے د اسیر صاحب څوداسې شعرونه پیش کوم چې د خوشحال بابا د شاعرئ په مجموعي اثر کښې لیکلي ښکاري ـ وائي:

نامړ د زړۀ وته موسئ ښکارې پلنګ
زوراور له امزرې هم نۀ کړې څنګ
لامبوزن ته سمندر نه جوړ شي ډنډ
بې لامبووائي په خوړ کښې د ےنهنګ[29]

له مقلار د ګیدړانو پاسه اوزه
د مزرو مقلار کښې اودروه خپل ځان
کم همت مشه د بل لاس ته مۀ ګوره
ځان کړه داسې چې بل تاته وائي خان[30]

د ژوندون خلکه به څو پورې د چاک وي
دمیږوشان له به کور د څو په خاک وي
پاسه باز شه د هوا الواتۀ ذده کړه
د دانې تلاش به څو د په خاستاک وي[31]

د نن صبا په پیرانو فقیرانو هم لکه د رواتي شاعرانو ټکونه کوي ـ

په ظاهر صورت غلط د شومه پیره
لویه کړې ده دۀ هېڅ بې قیصه ږیره
تۀ اغستے د دنیا هوا حرص ئي
ماته وائي لاس نیوه او کړه فقیره[32]

بل ځائے وائي:

شکرانه چې مې درنۀ کړه زۀ د عاق کړم
پیري نه ده پیره دا سودا ګري ده
په پیسو باندې چې ما بهائے جنت ته
دا په تاسخه د کومې راهداري ده[33]

## ٤ د زړۀ قطرې

د زړۀ قطرې د عبدالله جان اسیر دویمه شعري مجموعه ده دا ئې د مانسهرې د قیام په دوران کښې ١٩٤١ء کښې لیکلے وه خو بینځلس کاله پس چاپ شوه او د انرز د پاره کورس کښې مقرر شو۔

مولانه عبدالقادر په دې مجموعه خپله تنقیدي تبصره کښې لیکي چې

اسیر د اقبال د اثر دلاندې په دې خپل تصنیف کښې ډېر ښۀ قابل قدر خیالات جمع کړي دي ـ په انتحاب کښې ئي ښۀ وسعت ساتلے دے ـ د عبدالرحمن بابا رنګ هم پکښې شته او د اقبال د شکوې یوه ښۀ نمونه ده ـ [34]

د زړهٔ قطري په ګڼو برخو مشتمل کتاب دے ـ چې پکښې نظمونه قعلعات او غزلې شاملې دي ـ په نظمونو کښې ګله او د ګلې ځواب د علامه اقبال د شکوه جواب شکوه په طرز ليکلي شوي دي ـ ددے نه علاوه د مړي پيغام، زميندار، رحمت اللعالمين، مدوجزر، ګل لاله ، د جبرئيل او ابليس مکالمه ئې نور مشهور نظمونه دي چې دې کتاب کښې شامل دې ـ ددې نه علاوه کتاب کښې ځائے په ځائے ټپې هم ورکړے شوي دي ـ چې ددې کتاب ښکلا ئې يو په دوه کړې ده ـ لکه چې مخکښې وئيلي شوي دي ـ چې د ،،زړهٔ قطري،، د اسيرصاحب د شاعرۍ په ميدان کښې دوئيم قدم د وړومبۍ نه زيات بااعتماده وي ـ د اسير صاحب ددې کتاب شاعري هم د وړومبني کتاب د شاعرۍ نه د فن او فکر دواړو په لحاظ زياته پخه او بالغه ده ـ د هغهٔ دغه شعري بلوغت ته مولاناعبدالقادر هم په خپله تبصره کښې اشاره کړې ده ـ او ليکلي ئې دي چې :

> د اسيرشاعري د تنقيد هيڅ حاجت نهٔ لري ـ دې ميدان کښې دهٔ ډير تګ ودو کړے دے ـ او ددهٔ هره يوه منډه د وروستۍ نه تيزه او زور داره وي ـ ددې يو وجه دا ښکاري چې ددهٔ مطالعه کښې ورځ په ورځ وسعت راځي ـ او دعمر په زياتۍ پکښې يو پوخوالے او دروند والے راځي ـ دا هر شاعر سره کيږي ـ او دامې د ډيرو ناقدانو او عالمانو نه اوريدلي دي چې شاعر هم هغه شاعر دے چې ددهٔ هر يو کوشش د زوړ نه په ژبه خيال جذبه او بصيرت کښې زيات وي ـ اوهر چا کښې چې دا کيفيت په ښهٔ طريقه بيا موندے شي نو هم هغه شاعر ژوندے پاتې شي او دنيا ته څهٔ داسې خيالات پريږدي چې فائده ترې اخستے شي ـ [35]

په داسې حال کښې په دے دعوې هم اعتماد پيداشي چې وائي:

شاعران د ډول سرنا خودي بې شماره
داسې کم وي چې د حق ترجمان هم شي
د اسير ديوان دے ګنج د جواهرو
ډير شعرونه پکښې زيات له مرجان هم وي[36]

د اسير صاحب د شاعرانه دعوي نه علاوه د مولاناعبدالقادر اوخپلې دعوې په اثبات کښې د اسير صاحب ،،د زړهٔ قطرې،، نه ډيري شعري نمونې وړاندې کيدے شي ـ خو دلته زهٔ په يوه نمونه واړندې کولو اکتفا کوم چې مشت از نمونه خروار،، حيثت لري ـ هسې خو د اسير صاحب ددې مجموعې غټه برخه په نظمونو او قطعاتو مشتمله ده ـ چې د حقيقت سندۍ او مقصدي شاعرۍ غوره مثال دے ـ او د اسير صاحب د تاريخي شعور، فلسفيانه مزاج، ديني

او مذهبي پوهې او د پښتون اولس د مجموعي نفسياتو څرګندونه ترې کيږي ـ خو زۀ دلته د هغۀ د غزل يوه نمونه وړاندې کوم چې د هغۀ د رومانوي شاعرئ رنګ هم جوت شي ـ

اسير وائي:

د ګلشن نه مې بهار په ډير ارمان لاړ
چې د غيږ نه مې ښائسته ښکلے جانان لاړ
کۀ د سر په بها بيا موسم مراد خپل
او به نۀ کړمه ارمان چې زما ځان لاړ
چې نصيب د چا کوټه شي څوک ئې څۀ کړي
څو به ژاړم چې اشنا مې په خفګان لاړ
بدقسمته به نور څنګ وي ماته ګوره
په لمسون مې د رقيب ګل خندان لاړ[37]

## ٥ عبدالله جان اسير په حيث د مترجم

عبدالله جان اسير د علامه اقبال د ررbال جبرئيل،، منظومه ترجمه کړې ده چې په کال ١٩٥٩ء کښې چاپ شوې ده ـ بال جبرئيل د اقبال د ټولو نه مشهور اُردو تصنيف دے چې په عزلو، قعلعاتواو نظمونو مشتمل دے ـ د اقبال دې مجموعه کښې شاعري ډيره او فلسفه کمه ده ـ اسير صاحب ددې ترجمه ډيره راوانئ سره کړې ده ـ څۀ ته چې اقبال رر خودي،، وائي هغې ته اسير صاحب ررپښتو،، وائي ـ اقبال چې کوم صفات په مرد مومن کښې ليدل غواړي هم هغه صفات اسير صاحب په يو پښتون کښې ليدل غواړي ـ

اقبال وائي :

خودی کی جلوتوں میں مصطفائی
خودی کی خلوتوں میں کبریائی
زمین و آسمان و کرسی و عرش
خودی کی زد میں ہے ساری خدائی [38]

اسير صاحب ددې ترجمه داسې کوي ـ

د پښتو مجلس کښې دے پيغمبري شان
د پښتو خلوت کښې شان دے د رحمان
خدائي ټوله د پښتو د صفت دکه
عرش کرسئ ده يا که مزکه يا اسمان [39]

اقبال وائي:

خودی کے زور سے دنیا پے چھا جا
مقام رنگ و بو کا راز پا جا
برنگ بحر ساحل اشنا رہ
کف ساحل سے دامن کھینچتا جا[40]

اسیر صاحب ددے ترجمه داسې کوي ـ

د ررپښتو،، په زور په ټوله دنیا خور شه
ځان کړه پوهه په رازونو د جهان
سمندر په شان اشنا د ساحل اوسه
خو منګل ته د ساحل بچ لره ځان[41]

دغه شان اقبال وائي:

حکیمئ نا مسلمانی خودی کی
کلیمی رمز پنہانی خودی کی
تجھے گر فقر و شاہی کا بتا دوں
غریبی میں نگھبانی خودی کی[42]

چې ررپښتو،، وي نامسمله حکیمي ده
د ررپښتو،، رموز ښکاره په کلیمی کښې
د شاهۍ او فقر راز بۀ درښکاره کړم
د ررپښتو،، نګهبان به غریبی کښې[43]

ترجمه:
هسې هم ډیر ګران کار دے خو په خصوصي توګه منظومه ترجمه خو ډیر مهارت او شاعرانه کمال غواړي د اقبال د ګڼو کتابونو ترجمې پښتنو شاعرانو کړي دي ـ خو په دغو کتابونو کښې بال جبرئیل د اقبال زیاته مقبوله او اهمه مجموعه ده ـ چې اسرصاحب ئې منفلومه ترجمه ډیره په کامیابۍ سره کړے ده ـ
اسیر صاحب هسې هم د اقبال د خودۍ او قامي اصلاح د رنګ نه متاثر دے ـ په دے وجه د اقبال سره د فکري یووالي په نتیجه کښې دهغه د کلام ترجمه هم اسیر په ډیر ښۀ رنګ کړې ده ـ ددې ترجمې په سائینس کښې دا یوه خبره هم کافي ده چې د اسیر په ترجمه د اصل ګمان کیږي ـ داسې ګمان لکه چې دا شاعري اسیر پخپله په پښتو کښې کړې وي ـ

## ٦ عبدالله جان اسير په حيث د ناول نګار

عبدالله جان اسير د خپل ژوند په اخري ورځو کښې ررزمين سے پنچون تک،، ناول ليکلے دے ـ دا يو اصلاحي ناول دے ـ دے کښې د ليلٰی مجنون قيصه نشته دے ـ دے کښې دمعاشرې په عامو برائيانو بحث شوے دے ـ لکه د محنت اجر نۀ ملاويدل، رشوت، سفارش، د تعليم باوجود بے روزګاري، د پوليس ډاک، تعليم او د صحت د محکمو بے قاعدګي او ناانصافي ـ ددے نه علاوه په بين لاقوامي سطح د ملکونو برتري د شير طاقتونو په نورو ملکونو قبضې او په خپله بدمعاشي خرڅول ـ اسيرصاحب چې په هغوئ خپل ژوند کښې څۀ ليدي دي د کومو زياتو سره مخ شوے دے ـ د هغې هر څۀ ذکر ئې په دے ناول کښې کړے دے او بيا ددے هر څۀ علاج ئې هم ښودلے دے ـ او يو داسې قلاحي رياست د جوړولو چل ئې ښودلے ډے ـ چرته چې هر طرف ته امن دے ـ چر ته چې هر چا ته خپل حق ورسيري ـ ددے هر څۀ د پاره اسير صاحب د يوسائنسي قيصې سهارا اخستې ده او هغه د ناول په سيريزه کښې ليکي چې څوک د هم دا د حقيقت ته تلي ـ دا ټول زما د ذهين پيداوار دے ـ خو د ناول د لوستو نه پته لګي چې اسير صاحب لکه چې د سائينس په بنيادي څيزونو په فلکياتو، طبعياتو او حياتياتو لکه د يو ماهر سائسندان پوهه دے ـ او داسې لګي چې دا ناول يو اديب نه بلکې يو سائيندان ليکلے وي ـ بل ددے ناول خاص خبره دا ده چې دا په زمانه مستقبل کښې ليکلے شوے دے ـ ددنيا په هر ادب کښې په مستقبل کښې ليکل ډير کم شوي دي ـ او چې هر کله هم ليکلي شوي دي ـ نو ډير زيات ستائلے شوے د ے ـ لکه په انګريزي ادب کښې Golding William flies the of Lord ناول په مستقبل زمانے کښې ليکلے دے ـ Golding William ته د ادب د پاره نوبل پرائز هم ورکړے شوے دے ـ ځکه چې يو اديب د قام سترګې وي ـ هر اديب د خپلې زمانې او حالاتو ترجمان وي ـ خو کۀ د يو اديب بصيرت او دور انديشي دومره ډيره وي چې هغه سل شپږ ـ شلې کاله وړاندې ليدل کولے شي ـ نو يقيناً چې دا ډيره لويه خبره ده دا ناول په اردو ژبه کښې دے ـ خو د يو پښتون د قلم نه په مستقبل زمانه کښې ليک يقيناً چې د پښتون قوم د پاره د فخر او وياړ خبره ده ـ ددے ناول نه د مستقبل د وخت يو نمونه راخلم ـ

> معزز بزرگ ميں کيا کہ سکتاہوں. آپ ابھی تک 1970ء کے زمانے ميں رہتے ہيں . يہ2080ء ہے ميں سمجھا نہيں آپ نے جوکچھ کہا اس کا ميں کيا جواب دوں اس ملک کا تو بيڑا غرق اس لئے ہوا کہ نا اہل لوگ سفارش اور رشوتوں اور اقر باہر وری سے اعلی عہدوں پر تعينات ہوتے رہے [44]

د اسیر صاحب په ادبي خدماتو ددغه خور وور بحث نه ډیر په اسانه دا نتیجې دا اوځي چې هغه د شلمې صدۍ په شعري ادب کښې یو ممتاز مقام لري ـ او د جدید ادب په وده کښې دهغهٔ په کردار په هیڅ صورت سترګې نهٔ شي پټیدلے ـ

اسیر صېب په نثر او نظم دواړو کښې لیکل کړي دي ـ او په دواړو میدانونو کښې ئې د خپل علم، بصیرت ادبي ذوق او صلاحیت څرګندونه په ډیره ښهٔ توګه کړې ده ـ خو زیات شهرت د هغهٔ ډرامې رردرس عبرت،، ته حاصل شوے دے ـ زما خیال دے چې د هغهٔ ناول ته کهٔ زمونږ ناقدان او دانشوران توجه اوکړي ـ نو دا اعتراف به هم په یوه اعتماد سره اوکړي ـ چې اسیرصېب د ناول په میدان کښې هم د ژور فکر، په فطري، علومو د بنیادي پوهې، او د ناول په فني باریکیو پوره ګرفت لري او دغسې هغه د افسانوي ادب Fiction) ) د دواړو توکو ډرامې او ناول یو کامیاب لیکوال دے او په مجموعي توګه د خپل دور یو ډیر اهم او معیاري نثرنګار دے ـ د نثر نګارۍ نه علاوه د هغه شاعري هم د موضوع او مقصد په لحاظ د خپل دور د ادبي روایت مطابق د پښتون اولس په ذهني او فکري ارتقاء کښې ډیر اهم کردار لوبولے شي او په دې بنیاد هغه دخپل دور یو اهم شاعر هم دے ـ ځکه مونږ وئیلے شو چې داسیر صاحب ، علمي او ادبي خدماتوته زمونږ دانشوره طبقعه هغسې نه ده متوجه شوي څومره چې د هغهٔ حق دے ـ دا کار کهٔ اوس هم اوشي نو شاید چې حق ئې ادا شي ـ

# حوالې


[۱] خلیل، همیش، پښتانهٔ لیکوال (اول ټوک )، دارالتصنیف پېښور، ۱۹۶۱ء، ص ۱۷۲، ۱۷۳

[۲] اسیر، عبدالله جان، د زړهٔ قطرې، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۱۹۵۶ء ص ۱۵۶، ۱۵۷ ـ

[۳] رضا، محمد افضل، پروفېسر، کاروان د ازادۍ، یونیورسټي بُک ایجنسي پېښور، ۱۹۹۶، ص ۳۳۲ ـ

[٤] فریده اسیر (د عبدالله جان اسیرلور) سره مرکه، دره جمال اباد صوابی، مورخه ۱۱-۲ ـ ۰۹ـ

[٥] فریده اسیر (د عبدالله جان اسیرلور) سره مرکه،دره جمال اباد صوابی، تاریخ ۱۱-۲ ـ ۰۹ـ

[٦] همدغه

[۷] همدغه

[۸] رضا، افضل، ډرامه،تاريخ، تنقيداو فن، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ص ۸۲ ـ

[۹] د عبدالله جان اسير ذاتي ډائيري ( د فريده اسير ملکيت ) ناچاپ ـ

[۱۰] اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردارنګاري، پښتو اکيډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۳ء ص ٤٤٤ ـ

[۱۱] ديوبندي، جهانګيروي، محمد لطف الله، تنقيد مشموله، د سپرلي ګل، اداره اشاعت سرحد پشاور، ( س ن) ص ۸ ـ

[۱۲] اسير، عبدالله جان، دسپرلي ګل، ص ۹

[۱۳] همدغه ص ۵٤

[۱٤] همدغه ص ۱۱،۱۰

[۱۵] همدغه ص ۱٤

[۱٦] همدغه ص ۱٤

[۱۷] همدغه ص ۱٦

[۱۸] همدغه ص ۱۸

[۱۹] رحمان بابا، د رحمان بابا کليات ( مرتبه حنيف خليل)

[۲۰] اسير، عبدالله جان، دسپرلي ګل، ص ۲۰

[۲۱] رحمان بابا، د رحمان بابا کليات، ص ۱۰۵

[۲۲] اسير، عبدالله جان، د سپرلي ګل، ص ۲۳

[۲۳] رحمان بابا، د رحمان بابا کليات، ص ۲٦۵

[۲٤] همدغه ص ۱۵۱

[۲۵] اسير، عبدالله جان، د سپرلي ګل، ص ۲٦۵

[۲٦] همدغه ص ۱۵۱

[۲۷] خليل، حنيف، د رحمان بابا اعجاز، اداره مسلم وفن پاکستان، ۱۹۹۷ء ص ۲۵

[۲۸] رحمان بابا، د رحمان باباکليات، ص ۲۸۹

[۲۹] اسير، عبدالله جان، د سپرلي ګل، ص ۳۷

[٣٠] همدغه ص ٤٦

[٣١] همدغه ص ٣٧

[٣٢] همدغه ص ٤٤

[٣٣] همدغه ص ٤٤

[٣٤] عبدالقادر (مولانا)،تنقید، مشموله د زړۀ قطرې ( د عبدالله جان اسیر) ص ـ ز

[٣٥] همدغه ص ـ و

[٣٦] اسیر، عبدالله جان، د زړۀ قطرې، ص ٣٩

[٣٧] همدغه ـ ص ١٧٥

[٣٨] اقبال، علامه، شرح بال جبرئیل، ( مرتبه، پروفېسر یوسف سلیم چشتي ) مکتبه تعمیر انسانیت لاهور، ( س ن)

[٣٩] اسیر، عبدالله جان، پلوشي ( د بال جبرئیل ترجمه)، انجمن پریس ( س ن) ص ١٨

[٤٠] اقبال، علامه،شرح بال جبرئیل ص ٤٠٩

[٤١] اسیر، عبدالله جان، پلوشې، ص ١٢١

[٤٢] اقبال، علامه، شرح بال جبرئیل، ص ٤٦٤

[٤٣] اسیر، عبدالله جان، پلوشې، ص ١٥٠

[٤٤] اسیر، عبدالله جان، زمین سے نیپچون تک، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، ١٩٩٧ء ص ٢٢٩